د افغانستان اسلامي امارت

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت

د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او

لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو

ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.

---

۱۰/ ربیع الثاني/۱۴۴۷ هـ، ق موافق ۱۱ / میزان /۱۴۰۴هـ، ش

# د ځنګلونو د ساتنې اهمیت او ضرورت، او له پریکولو څخه یې په کلکه اجتناب کول.

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين ، والصلاة والسلام على سيد الأنبياء والمرسلين ، وعلى آله وصحبه أجمعين ، ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين، أما بعد :قال الله سبحانه وتعالى: (فَلْيَنْظُرِ الْإِنْسَانُ إِلَى طَعَامِهِ * أَنَّا صَبَبْنَا الْمَاءَ صَبّاً * ثُمَّ شَقَقْنَا الْأَرْضَ شَقّا * فَأَنْبَتْنَا فِيهَا حَبّاً * وَعِنَباً وَقَضْباً * وَزَيْتُوناً وَنَخْلاً * وَحَدَائِقَ غُلْباً * وَفَاكِهَةً وَأَبّاً * مَتَاعاً لَكُمْ وَلِأَنْعَامِكُمْ) عبس:(۳۲)

**درنو حاضرینو او اوریدونکو !**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

الله جل جلاله پر موږ انسانانو او خصوصاً په مسلمانانو باندې د بې شمیره نعمتونو پیرزونه کړې ده ، چې څه ظاهري نعمتونه دي او څه باطني نعمتونه دي ، نو موږ ته په کار دي چې دالله تعالی د نعمتونو شکر اداء کړو او د هر ډول ناشکرۍ څخه ځانونه په کلکه وساتو.الله تعالی فرمایلي دي:( وَإِن تَعُدُّواْ نِعْمَتَ اللّهِ لاَ تُحْصُوهَا إِنَّ الإِنسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ) ابراهیم:(۳٤)

ترجمه: او که و شمیرئ تاسې (ټول انواع او ټول افراد د ) نعمت د الله نو وبه نه شمېرلی شئ تاسې دا نعمتونه د الله تر آخره پورې بېشکه انسان خامخا لوی ظالم ډېر ناشکره دی.

الله تعالی د انسانانو د ضرورت او فائدې لپاره ځمکه او آسمانونه پیداکړي دي او له آسمان څخه بارانونه نازلوي او په دغه باران سره یې زموږ د فائدې لپاره د ځمکې په سر ځنګلونه، شنې ګیاوې او غلې دانې رازرغون کړي دي.همدا راز زموږ لپاره ورځ او شپه پیدا کړې ده، ترڅو د ورځې کار او کسب وکړو او د شپې راحت واخلو او استراحت وکړو، همدا راز زموږ لپاره یې وچه او بحر ، لمر او سپوږمۍ مسخر کړي دي، ترڅو دالله تعالی عبادت وکړو ، نیکي وکړو او له بدیو څخه ځانونه وساتو.

د الله جل جلاله په نعمتونو کې یو ستر نعمت هغه ځنګلونه دي، چې زموږ د فائدو او راز راز ګټو لپاره یې زرغون کړي دي.

## الف: په شریعت کې د ځنګونو او ونو بوټو ساتلو اهمیت او ضرورت:

الله تعالی د ونو بوټو ،ځنکلونو او باغونو ذکر په قرآن کریم ځای ځای کړی دی چې دا د ونو او ځنکلونو په اهمیت دلالت کوي او د خیر او رزق علامه ګڼل کیږي.الله تعالی فرمایلي دي:(فَلْيَنْظُرِ الْإِنْسَانُ إِلَى طَعَامِهِ * أَنَّا صَبَبْنَا الْمَاءَ صَبّاً * ثُمَّ شَقَقْنَا الْأَرْضَ شَقّا * فَأَنْبَتْنَا فِيهَا حَبّاً * وَعِنَباً وَقَضْباً * وَزَيْتُوناً وَنَخْلاً * وَحَدَائِقَ غُلْباً * وَفَاكِهَةً وَأَبّاً * مَتَاعاً لَكُمْ وَلِأَنْعَامِكُمْ) عبس:(۳۲)

ترجمه:نو ودې ګوري انسان خپل طعام ته ښشکه مونږ توېې کړي دي اوبه له وریځو څخه په تویولو سره بیا ځېرې کړې ده مونږ ځمکه په څیرولو سره. بیا مو زرغونې کړې دي په هغې ځمکې کې دانې او انګور او ترکاري او زیتون خونه او خرما او باغونه ګڼ له جهته د ډیروالي د ونونه او تازه مېوې او وچې مېوې یا واښه ومو کړل دغه ټول څیزونه لپاره د نفع د تاسې او د حیواناتو د تاسې.

په یو بل ځای کې الله تعالی فرمایلي دي:( أَفَرَأَيْتُمُ النَّارَ الَّتِي تُورُونَ * أَأَنْتُمْ أَنْشَأْتُمْ شَجَرَتَهَا أَمْ نَحْنُ الْمُنْشِئُونَ) الواقعة:(٧٢)

ترجمه:آیا پس وینئ چې خبر راکړئ تاسې د اور هغه نه چې بلوئ یې تاسې له هر راز محروقاتو نه آیا تاسې پیدا کړې ده ونه د دې اور او که مونږ پیدا کوونکي یو د هغې ونې او د ټولو محروقاتو بلکه ته یې ای الله.

ددې آیت څخه مخکې فرمایي: (أَفَرَأَيْتُم مَّا تَحْرُثُونَ أَأَنتُمْ تَزْرَعُونَهُ أَمْ نَحْنُ الزارعون)الواقعة:( ٦٣ - ٦٤)

ترجمه: آیا پس وینئ چې خبر راکړئ ماته هغه چې کرئ یې تاسې زرغونوئ هغه که مونږ یو زرغونوونکي.

په یو بل آیت کې الله تعالی د ونو بوټو او ځنګلونو ذکر کړی دی او فرمایلي یې دي :{أَمَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ السَّمَاءِ مَاء فَأَنبَتْنَا بِهِ حَدَائِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ مَّا كَانَ لَكُمْ أَن تُنبِتُوا شَجَرَهَا أَإِلَهٌ مَّعَ اللَّهِ بَلْ هُمْ قَوْمٌ يَعْدِلُونَ). النمل:(٦٠)

ترجمه: بلکه هغه څوک بهتر دی چې پیدا کړي یې دي اسمانونه او ځمکه او نازلې کړې یې دي لپاره د تاسې له طرفه د اسمان اوبه پس زرغون کړل مونږ په دغو اوبو سره باغونه خاوندان د رونق او ښایست نه دی کیدونکی له تاسې دا کار چې زرغونې کړئ تاسې ونې د هغو.

امام فخر الدین رازي ددې أیت په تفسیر کې لیکي: الله تعالی دا بیانوي چې ځمکه او آسمانونه یواځې ما پیدا کړي دي او آسمان مې د اوبو ځای ګرځولی دی او ځمکه مې د زرغونولو لپاره پیدا کړی ده او د لوی نعمت ذکر یې کړی دی چې هغه باغونه دي چې ښاسته دي او طر او تازه دي. تفسیر الرازي: دار إحیاء التراث (ص: ٣٤٦٨)

په یو بل مبارک آیت کې راځي: الله تعالی فرمایي:{الَّذِي جَعَلَ لَكُمْ مِنَ الشَّجَرِ الْأَخْضَرِ نَاراً فَإِذَا أَنْتُمْ مِنْهُ تُوقِدُونَ} یس:(٨٠)

ترجمه: الله تعالی هغه ذات دی چې تاسی ته یې د ونو څخه اور درکړ چې تاسې خپل ځانونو وربانديې ګرم کړی.

په یو بل آیت کې الله تعالی فرمایلي دي:{وهُوَ الَّذِي أَنشَأَ جَنَّاتٍ مَّعْرُوشَاتٍ وَغَيْرَ مَعْرُوشَاتٍ وَالنَّخْلَ وَالزَّرْعَ مُخْتَلِفًا أُكُلُهُ وَالزَّيْتُونَ وَالرُّمَّانَ مُتَشَابِهًا وَغَيْرَ مُتَشَابِهٍ }الانعام: ١۴١

ترجمه: او الله هغه ذات دی چې پیدا کړي یې دي باغونه د انګورو له ځمکې هسک اوچت کړي شوي پر لرګیو او غیر هسک اوچت کړی شوي پراته پر ځمکه او د خرما ونه او کښت فصل چې مختلفې وي مېوې حاصل د هغو په رنګ او خوند کې او زیتون ښونه او انار نرګوسی چې متشابه وي په ونو او پاڼو کې او غیر متشابه وي.

په یو بل مبارک آیت کې راځي:{الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ مَهْداً وَسَلَكَ لَكُمْ فِيهَا سُبُلاً وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا بِهِ أَزْوَاجاً مِنْ نَبَاتٍ شَتَّى كُلُوا وَارْعَوْا أَنْعَامَكُمْ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِأُولِي النُّهَى}طه: ۵۳-۵۴

ترجمه: هغه الله چې ګرځولې یې ده تاسې ته ځمکه فرش غوړېدلې او روانې کړې یې دي تاسې ته په دې کې لارې او نازلې کړې یې دي له طرفه د اسمانه اوبه پس راوباسو مونږ په دې اوبو سره هر قسم له ګیاو شنیلیو څخه رنګ په رنګ.

وخورئ تاسو ترې وڅروئ په کې چارپایان خپل بیشکه په دې( مذکورو شیانو کې)خامخا(د قدرت ډېر) دلائل لپاره د خاوندانو د عقل.

په یو بل مبارک آیت کې راځي:{وَنَزَّلْنَا مِنَ السَّـمَاءِ مَاءً مُبَارَكاً فَأَنْبَتْنَا بِهِ جَنَّاتٍ وَحَبَّ الْحَصِـيدِ وَالنَّخْلَ بَاسِـقَاتٍ لَهَا طَلْعٌ نَضِـيدٌ رِزْقاً لِلْعِبَادِ}ق: (۹-۱۱)

ترجمه: او نازلې راښکته کړې دي مونږ له طرفه د اسمانه اوبه ډېرې برکتناکې نو زرغونه مو کړل په دغو اوبو سره باغونه چې هر راز مېوې لري او دانې د کښت چې فصل يې ربېلی کيږي. او زرغونې مو کړلې په دغو اوبو سره ونې د خرماوو لوړې هغې لره وږي دي لاندې باندې رزق روزي لپاره د بندګانو.

دا او داسې نور آيتونه ټول د ځنګلونو پر اهميت او ضرورت دلالت کوي. بناءً مونږ لره په کار دي، چې د ځنګلونو څخه په کلکه ساتنه وکړو، ځکه چې ځنګلونه ملي شتمني ده چې الله تعالی ور باندې غرونه پوښلي دي او مونږ بايد د ځنګلونو د پريکولو څخه په کلکه ځان وساتو. په اسلامې شريعت کې د ځنګلونو او ونو بوټو په کرلو او کينولو امر شوی دی، چې دا د ځنګولونو د جوړولو ، ايجادولو او ساتلو په اهميت او ضرورت باندې دلالت کوي.

په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :(إِنْ قَامَتْ عَلَى أَحَدِكُمُ الْقِيَامَةُ ، وَفِي يَدِهِ فَسِيلَةٌ فَلْيَغْرِسْهَا). مسند أحمد (۳/ ۱۸۳)

ژباړه : که چيرې ستاسو پر يوه کس باندې د دنيا عمر پای ته ورسيده او قيامت ورځ ورباندې راغله او په لاس کې يې د خرما نيالګی ؤ نو هغه دې کينوي او فرصت دې له لاسه نه ورکوي.

په يو بل حديث کې پيغمبرعليه السلام فرمايلي دي څوک چې ونه کينوي او وه يې کري ، نو دا دده لپاره صدقه شوه: (عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا إِلاَّ كَانَ مَا أُكِلَ مِنْهُ لَهُ صَدَقَةٌ).صحيح مسلم (۵ /۲۷)

ژباړه : د حضـرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم وفرمايل: کوم مسلمان چې يو نيالګی کينوي، دا د هغه مسلمان لپاره صدقه شوه.

په يو بل حديث شريف کې راځي: (مَنْ نَصَـبَ شَـجَرَةً فَصَبَرَ عَلَى حِفْظِهَا وَالْقِيَامِ عَلَيْهَا حَتَّى تُثْمِرَ كَانَ لَهُ فِي كُلِّ شَيْءٍ يُصَابُ مِنْ ثَمَرَتِهَا صَدَقَةٌ عِنْدَ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ). مسند أحمد مخرجا (۲۷/ ۱۲۹)

ژبـاړه: چاچې يوه ونه ودروله او دهغې پالنه يې ترهغې وکړه چې ميوه يې ونيوله د هري ميوې په عوض کې به الله تعالی ورته اجر ورکړي.

نو مونږ لره په کار دي چې دالله تعالی ددې نعمت قدر وکړو او له پریکولو څخه ځانونه په کلکه وساتو ؛ ځکه چې ځنګلونه په پریکولو او وهلو سره له منځه ځي او داسلامي شریعت د امر مخالف عمل دی.

## ب:د ځنکلونو ګټې او د ځنګلونو د ساتنې ضرورت :

ځنګلونه چې الله تعالی بغیر د انسـان د دخل څخه شـنه کړي دي او د زرهاو کلونو څخه د ځمکې مخ ور باندې پوښلې دی ډېرې زیاتې ګټې اوفائدې لري ، چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

**۱-:** ځنکلونه د علم نباتات د اصولو له مخې ژوندي مخلوقات دي ځکه چې نمو کوي، رزق ته اړتیا لري.

ځنګلونه هوا تصفیه کوي، ځنګلونه نقصاني او ضرري (نایتروجن اکسایډ، امونیا، سلفر ډای اسکایډ) جذبوي او د خپل پوټکي او پاڼو له لارې یي فلټر او تصفیه کوي، او بیا د سهار له مخې فایده مند اکسیجن د خلکو د ژوند لپاره تولیدوي او خپروي چې انسانان، حیوانات، د هواء مرغان او دځمکې حشرات ورڅخه ګټه اخلي.

په هرځای کې چې ځنکلونه موجود وي په هغه ځای کې انسانان، حیوانات، حشرات او مرغان مفت خدایې مفید اکسیجن تنفس کوي او ددوی صحت ته ډیر زیاته ګټه رسوي.

د معاصر تجربوي علم په اساس دا ثابته شوی ده ، چې زیات عملیات شوي او یا د قلبي امراضو ناروغان په روغتونو کې که چیرې هغوی په داسې کوټو کې بستروي چې شنه منظره ولري او یا ونو او شنو فصلونو ته ورته وي،داکار د هغوی په روغتیا کې مرسته کوي او د نورو مریضانو په نسبت ژر روغیږي.

که چیرې مونږ ځنګلونه پرې کړو، د الله تعالی ددغه نعمت څخه به بې برخې پاتې شو او ممکن په مختلفو مرضونو اخته شو.

نو د ځنکلونو پریکول په حقیقت په انسانانو د اړین اکسیجن بندول او یا د هغې د کچې کمول دي، چې دا لوی ضرر دی او د اسلام په مبارک دین کې ځان ته او بل ته په قصدي توګه ضرر رسول ګناه ده.

په یو حدیث شریف کې راځي:(لا ضرر ولا ضرار ). السنن الکبری (٦/ ١٥٧)ترجمه:نه ابتداءً ضرر رسول جائز دي او نه انتقاماً ضرر رسول جایز دي.

**۲-:** د احصایې له مخې د ځمکې وچه په(٣١ % ) یو دیرش فیصده ځنګلونو پوښل شوی ده،چې په دغو ځنګلونو کې ډیری ژوندي ژوي ژوند کوي او د انسانانو، حیواناتو، حشراتو او مرغانو د اوسیدو ځای او سر پناه ده او د خلکو لپاره او نورو حیواناتو لپاره صحي او نفسي ګټې تامینوي.

نو مونږ لره په کار دي چې د ځنګلونو په حفاظت کې کوښښ وکړو او د ځنګلونو د پرې کولو څخه په کلکه ځانونه وساتو.

که چېرې مونږ د ځنګلونو څخه ساتنه او حفاظت ونکړو او ځنګلونه پرې کړو ، نو په حقيقت مونږ به ددغو خلکو د اوسيدونو په تاتوبې به مو تجاوز کړی وي او پر هغوی به مو ظلم کړی وي، حال داچې الله تعالی ظالمان نه خوښــوي. (وَاللَّهُ لا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ) آل عمران: (١٤٠)

ترجمه: او الله تعالی خوښ نه ګڼي ظالمان. يعنې بد يې ګڼې او څوک چې دالله تعالی بدي شي د هغه ځای جهنم دی.

**۳-:** همدارنګه ځنګلونه د مختلفو وحشي حيواناتو ، مرغانو او حشراتو کور او د اوسيدو ځای دی .او په ټوله نړۍ کې په ځنګلونو کې وحشی حيوانات او نور مختلف ژوندي ژوي اوسيږي، که چيرې مونږ خلک پريږدو چې ځنګلونه ووهي او پري يې کړي ، نو مونږ د ژونديو کائنانو تاتوبی له منځه يوړ او دغه وحشي ځناور او مرغان مجبور دي چې بلې قارې ته لاړ شي او په ځنګلونو کې ژوند غوره کړي. همدا وجه ده چې د ځنګلونو په پرې کلولو سره ډيری وحشــی حيوانات او ډول ډول مرغان او نور ژوندي ژوندی په ختميدو دی.

زمونږ هيواد په مشرقي او جنوب شرق زونونو کې پراخه او پريمانه ځنګلونه درلود ، نو هر ډول وحشي حيوانات او ډول ډول زينتي مرغان زمونږ په هيواد کې اوســيدل ، اوس چې خلکو په بې رحمانه توګه دغه ځنګلونه پرې کړل ، زمونږ له هيواد څخه وحشي‌ـــ حيوانات او مرغان نورو سيمو ته لاړل او دا خاوره يې د ابد لپاره پريښوده او نسلونه يې ختم شول.

**۴-:** د ځنګلونو پرې کول د نړۍ اقليم تغيروي او د تودوخې درجې د لوړيدلو سبب ګرځي. ځنګلونه دځمکې لپاره د يخچال حيثيت لري، چې د ګرمی شدت کنترولوي. که چيرې مونږ ځنګلونه پرې کړو ، نو په دې سره د حرارت درجه لوړيږي او پر اقليم بد او ناوړه تاثير کوي ، په هيواد او منطقه کې د تودوخې درجه پورته کيږي، چې دا ښکاره ضرر دی او د ځمکې پر مخ فساد کول دي. حال داچې فساد کول ناروا او حرام کار دی. الله تعالی فرمايلي دي: (كُلُوا وَاشْرَبُوا مِنْ رِزْقِ اللَّهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ) البقرة:( ٦٠)

ترجمه: د الله له رزق نه خورئ او څښئ او په ځمکه کې له حد نه مه تيريږئ چې ورانی کوونکي اوسئ.

**توضيح:** په ځمکه کې فساد کول ډير ډولونه لري چې د هغې له جملې څخه د ځنګلونو پرې کول هم دي .

علامه ابن عادل رحمه الله ددې آيت په تفسير کې ليکي: (ولا تسعوا في إفسادِ مصالح الغير ، فإنَّ ذلك في الحقيقة سعي منكم في إفساد مصالح أنفسكم ). اللباب في علوم الكتاب (١٠ /٥٤٥)

ژباړه: کوشش مه کوئ د بل چا د مصالحو د فاسدولو لپاره،بيشکه دا کار په حقيقت کې کوښښ کول دی ستاسو له خوا نه د فاسدولو د ستاسو د مصالحو .

د ځمکې په سر فساد کول د منافقانو عادت او خوی دی. د نسل او فصل له منځه وړل د منافق شخص کار دی.( وَإِذَا تَوَلَّى سَعَى فِي الْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ) البقرة:( ٢٠٥)

ترجمه: او كله چې بيرته وګرځي نو په ځمكه كې ګړندی ګرځي ددې لپاره چې په دې كې فساد وكړي او فصل او نسل تباه كړي حال داچې الله تعالی فساد نه خوښوي.

**توضيح:** ددې آيت څخه مراد عموم د لفظ مراددی او د هر ډول فساد څخه الله تعالی ممانعت كړی دی چې د ځنګلونو پرې كولو ته هم شامل دی.

امام قرطبي رحمه الله وايي: فيه مسألة واحدة وهو أنه سبحانه نهى عن كل فساد قل أو كثر بعد صلاح قل أو كثر، فهو على العموم على الصحيح من الأقوال. تفسير القرطبي (٧ /٢٢٦)

ژباړه: په دې مبارک آيت كې يوه مسأله ده او هغه داده چې الله تعالی دلږ او زياد اصلاح څخه وروسته د هر ډول فساد څخه منع كړې ده هغه فساد لږ وي او كه زيات ، نو آيت په عموم باندې حمل دی په صحيح قول سره.

**۵-:** د ځنګلونو پرې كول د ځمكې د وچيدو سبب ګرځي او د خطرناكو سيلابونو د راوتلو باعث ګرځي، چې انسانان، حيوانات او فصلونه تباه كوي. كه چيرې ځنګلونه موجودوي . نو باراني اوبه ونې او بوټي او ځنګلونه جذبوي او بيا د حاجت په اندازه اوبه د ونو او بوټو له بيخونو څخه راوځي چې له يوې خوا ځنګلونه او فصلونه خړوبوي او له بلې خوا ځنګلونه د سيلابونو په مخنيوي كې رغنده رول لوبوي.

كه چيرې مونږ ځنګلونه پرې كړو، نو زمينه مو تباه كوونكو سيلابونو ته برابره كړه او مونږ د سيلابونو په تخريبونو او وژنو كې شريک ګڼل كيږو، ځكه چې د خلكو او مالونو زيان ته مونږ زمينه برابره كړه.

كه چيرې ځنګلونه پرې كړو، په حقيقت كې مونږ به د سيلابونو او طوفانونو د راتللو سبب ګرځيدلي يو.

په ځينو وختونو كې مباح كار دبدو نتائجو په وجه حرام ګرځي، لكه چې په دښمن د سلاح خرڅول چې ممنوع كار دی . (وَكُرِهَ بَيْعُ السِّلَاحِ من أَهْلِ الْفِتْنَةِ لِأَنَّهُ إِعَانَةٌ على الْمَعْصِيَةِ ) البحر الرائق (٥ /١٥٤)

ژباړه: مكروه (تحريمي) دي خرڅول د سلاح په فتنه ګرو باندې ، ځكه چې په هغوی د سلاح په خرڅولو كې په ګناه كې مرسته كول دي.

**٦-:**_ ځنګلونه شرعاً سلطاني او امارتي ملكيتونه دي او د امارتي ملكيتونو د غصب كولو او په هغې كې تصرف كول ممنوع اعلان شوي دي. نو د ځنګلونو په پرې كولو كې د حاكم نظام څخه سرغړونه ده او د وخت د حاكم د حكم سره مخالفت او نافرماني ناروا ده. الله تعالی فرمايلي دي: ( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ)النساء: (٥٩)

ترجمه: ای هغو كسانو چې ايمان يې راوړی دی ای مؤمنانو حكم ومنئ تاسې د الله او حكم ومنئ تاسې د رسول د الله او حكم و منئ د خاوندانو دحكم له تاسې مسلمانانو يعنې حاكمانو او مشرانو.

**۷-:** د شخصي مصالحو لپاره د ځنګلونو پرې کول جواز نلري ، ځکه چې عمومي مصلحت مقدم دی په خصوصي مصلحت باندې.

فقهي قاعده ده چې په هغې کې راځي«المصالح العامة مقدمة على المصالح الخاصة»الموافقات، للشاطبي (٦ /٧٤)

ژباړه: عمومي مصالح مقدم دي په خصوصي مصالحو باندې.

عمومي مصحلت د ځنګلونو په نه پرې کولو کې دی، ځکه چې ګټه او نفع یې ټولو انسانانو ته رسیږي او که څوک یې د ځان لپاره او د څو روپو د ترلاسه کولو لپاره ځنګلونه پرې کوي او عمومي نفع ته ضرر رسوي ، نو دا کار شرعاً جواز نلري.

مونږ وینو چې د ځنګلونو یوه ونه د لکونو افغانیو قیمت لري ، خو ځینې خود غرض خلک یې  پرې کوي او په څو ټنګو یې خرڅوي.

**۸-:** ځنګلونه زمونږ لپاره اوبه تصفیه کوي، کله چې بارانونه ووریږي ، نو اوبه د ونو په بیخونو کې جذبیږي او بیا تصفیه کیږي او واپس د چینو او څاه ګانو له لارې راویستل کیږي.

که چیرې ځنګلونه پرې کړل شي ، نو د اوبو د تصفیې لوی مصدر به مو له لاسه ورکړی وي.

**۹-ـ:**  له بل پلوه ځنګلونه د چاپیریال په سرسبز ساتلو او د هیواد په ښکلا کې مهم رول لري او چاپیریال ساتنه زمونږ دنده ده.

که چیرې ځنګلونه پرې کړل شي ، نو غرونه او دښتې به له ونو څخه خالي شي او په هیواد کې به ګردونه، زیانمنوونکې بادونو ته لار هواره شي چې دا کار انسانانو، فصلونو، حیواناتو او نورو ژوندي مخلوقاتو ته زیات ضرر رسوي او ضرر رسول په اسلامي شریعت کې ممنوع دي.  امام ابن نجیم رحمه الله لیکلي دي: (الضَّرَرُ يُزَالُ) الأشباه والنظائر لابن نجيم (ص: ٧٢)ژباړه: ضرر به له منځه وړلی شي.

که  چیرې څوک د ځان د مصلحت لپاره ځنګلونه پرې کوي ، نو دده دا کار جواز نلري ،ځکه چې د ځنګلونو په پرې کولو کې زیات مفاسد پراته دي. او کله چې د مصالحو او مفاسدو تقابل راشي، نو د مفاسدو لمنځه وړلو ته ترجیح ورکول کیږي.
امام ابن نجیم رحمه الله لیکي دي:(دَرْءُ الْمَفَاسِدِ أَوْلَى مِنْ جَلْبِ الْمَصَالِحِ.  فَإِذَا تَعَارَضَتْ مَفْسَدَةٌ وَمَصْلَحَةٌ قُدِّمَ دَفْعُ الْمَفْسَدَةِ غَالِبًا ).الأشباه والنظائر لابن نجيم (ص: ٩٠)
ژباړه: دفع کول د مفاسـدو بهتره دي د مصالحو له جلبولو څخه. کله چې د یوې مفسدې او یو مصلحت ترمنځ تعارض راشي، نو د مفسدې دفع کول ته په غالبو حالاتو کې لومړی والی ورکول کیږي.
**۱۰-:** د هغو ځنګلونو او ونو د پرې کولو څخه چې د خلکو مصالح ور پورې تړلي وي، په احادیثو کې ورڅخه منع راغلی ده.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حُبْشِىٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « مَنْ قَطَعَ سِدْرَةً صَوَّبَ اللَّهُ رَأْسَهُ فِى النَّارِ ». يَعْنِى مَنْ قَطَعَ سِدْرَةً فِى فَلاَةٍ يَسْتَظِلُّ بِهَا ابْنُ السَّبِيلِ وَالْبَهَائِمُ عَبَثًا وَظُلْمًا بِغَيْرِ حَقٍّ يَكُونُ لَهُ فِيهَا صَوَّبَ اللَّهُ رَأْسَهُ فِى النَّارِ. سنن أبى داود-ن (٤ /٥٣٠)
ژباړه:د حضرت عبدالله حبشي رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چاچې یوه د بیرې ونه پرې کړه، نو سر چپه به یې الله تعالی په جهنم کې واچوي .

امام ابوداود ددې حدیث په شرح کې وایي یعني چاچې د بیرې ونه چې په دشته کې ولاړه وي او مسافر ور څخه لاندې دمه کوي او حیوانات هم د هغې د سیورې لاندې استراحت کوي په عبث سره او په ظلم سره په ناحقه بغیر د نفعې اخیستلو څخه هغه قطع کړي،ښکته به کړي الله سر دده د جهنم په اور کې.
ملاعلی القاري رحمه الله ددې حدیث په شرح کې وایې: چې دا حدیث مختص په بیره پورې نه دی ، بلکې هر هغه ونه چې خلک او حیوانات یې له سیوري څخه ګټه اخلي رسیږي، دا وعید ورته متوجه دی. مرقاة المفاتیح (٩/ ٤٢٣)
د احادیثو شارحینو لیکلي دي، چې په کومې ونې او بوټي پورې د خلکو حاجت تړلی وي او خلکو ته ورڅخه ګټه او فائده رسیږي د هغې ونې قطع کول جواز نلري.
ښکاره خبره ده چې ځنګلونه زمونږ لپاره زیات ارزښت لري او د خلکو لپاره بیلابیلې ګټې او فائدې لري او د ټولو خلکو حق ور پورې تړلی دی ، بناءً د ځنګلونو پرې کول جواز نلري ، مګر د شرعي حاکم په اجازې سره.

همدا راز په یو بل حدیث شریف کې راځي : عَنْ ثَوْبَانَ مَوْلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ قَتَلَ صَغِيرًا أَوْ كَبِيرًا أَوْ أَحْرَقَ نَخْلًا أَوْ قَطَعَ شَجَرَةً مُثْمِرَةً أَوْ ذَبَحَ شَاةً لِإِهَابِهَا لَمْ يَرْجِعْ كَفَافًا). مسند أحمد (٣٧ /٥٢)

ژباړه: د حضرت ثوبان د نبي علیه السلام آزاد کرده وایي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چې وه یې فرمایل:چاچې ماشوم ووژلو او یا یې لوی (سپین ږیری) ووژلو او یا یې د خرما ونه وسیزله او یا یې میوه داره ونه پرې کړه او یایې د پوستکي په غرض پسه ذبح کړ، را وبه نه ګرځي چې د وبال څخه خالي وي، بلکې را وبه ګرځي چې ګناهګار به وي. شرح المشكاة للطيبي(٨ /٢٦٥٧)

په یو بل روایت کې راځي: هرکله چې حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه یزید بن ابي سفیان رضي الله عنه شام ته د جهاد لپاره لیږلو داسې نصیحت یې ورته وکړ: (ولا تحرقن نخلا ، ولا تعقرها ، ولا تقطع شجرة مطعمة) سنن سعيد بن المنصور (ص: ٣٢٦)

ترجمه: او مه سیزه دخرما ونه (یا داچې مه سیزه د شاتو مچی ) او مه قطع کوه سر د خرما د ونې او مه قطع کوه میوه داره ونه.

**١١-:** د ځنګلونو پرې کول په ځمکه کې د استخلاف له اصل سره مخالف عمل دی.

الله تعالی انسان په ځمکه ددې لپاره پیداکړی دی چې په ځمکه کې به غوره او ښه کارونه کوي او ځمکه په آبادوي او دځنګلونو په پرې کولو کې په ځمکه کې فساد کول دي چې د استخلاف سره منافي عمل دی. لله جل جلاله فرمایلي دي:(هُوَ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا).هود:(٦١)

ترجمه:همدغه الله پیدا کړي یئ تاسې له ځمکې چې آدم یا ماده د نطفې ده او د دې ځمکې دآبادولو غوښتنه یي درنه کړې ده.
امام ماوردي رحمه الله ددې آیت په معنا کې لیکي:( امركم بعمارة ما تحتاجون إليه فيها بناء مساكن وغرس أشجار قاله علي بن عيسى). النكت والعيون ـ موافق للمطبوع (٢ /٤٧٩)
ژباړه: تاسو ته یې امر کړی دی په آبادولو د هغه څه چې تاسو ورته اړتیا لرئ ، لکه کورونو جوړول او د ونو کینول او کرل.

د ځنګلونو د پرې کولو، سوزولو څخه باید په کلکه اجتناب وشي او کوښښ وشي چې د اسلامي تعلیماتو په رڼاکې ځنګلونه ایجاد شي او ونې او بوټي کینول شي، ځکه د ونو او بوټو په کرلو او کینولو کې دُنیوي او أُخروي ګټې نغښتي دي.

**اقول قولي هذا ، استغفر الله لي ولكم و لسائر المسلمين.**